# مختصر شرح ألفاظ الأذان (للجمعية)

# د اذان د الفاظو مختصره تشريح

## *د اذان د الفاظو مختصره تشریح*

د ببلاببلو ژبو په وسیله د اسلامي محتوا د خدمت د ټولنې علمي کمېټه

## *د اذان د الفاظو تشریح*

د ببلاببلو ژبو په وسیله د اسلامي محتوا د خدمت د ټولنې علمي کمېټه

اذان یو رباني غږ دی چې مسلمان یې په ورځ کې پنځه ځلې اوري او د هغه عظمت وریادوي او د خېر او بریا لور ته بلنه ورکوي. دا د انسان او د هغه د خالق ترمنځ د اړیکې یوه شېبه ده چې د دنیا له شورماشور څخه پکې جلا کېږي، ترڅو خپل رب ته مناجات کوونکي ودرېږي.

اذان لوړې او عالي معناوې لري چې د الله تعالی په تعظیم سره پیلېږي او لمانځه ته په بلني سره پای ته رسېږي، چېرته چې مسلمان خپله حقیقي سکون او آرامي مومي.

د اذان کلمې:

الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر، الله اکبر

اللَّهُ أَكْبَرُ

د "الله" نوم د مألوه (یعني معبود او د عبادت وړ ذات) په معنا دی، دا د هغه پالونکي او خالق سپېڅلی نوم دی چې جلال او عظمت یې لوړ دی. د الله تعالی نور ټول ښکلي نومونه د همدې نوم تابع دي او د همدې ذات صفتونه بیانوي. الله تعالی

يو او يكتا دی، نه يې څوک زېږولي او نه له چا زېږېدلی دی، او هماغه د اسمانونو او ځمکې خالق دی.

د "الله اکبر" وينا معنا دا ده چې الله تعالی له هر څه څخه لوی او ستر دی، او د هغه شان، جلال او کمال تر دې ډېر لوړ دی چې داسې څه ورته منسوب شي چې د هغه له عظمت او بشپړتيا سره مناسب نه وي.

الله اکبر.. دا جمله مسلمان ته دا ور په يادوي چې په دې دنيا کې هېڅ شی داسې نشته چې دی د خپل خالق له ياد او اطاعت څخه غافل کړي. انسان بايد خپل ژوند د الله تعالی د ارادې او شريعت له مخې پر مخ يوسي، نه د خپلو غوښتنو او نفساني خواهشاتو له مخې؛ ځکه الله تعالی له هر هغه څه څخه ډېر لوی او ستر دی چې په دنيا کې دي.

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ
أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ

زه ګواهي ورکوم چې له الله پرته بل حق معبود نشته

دا لومړی ګواهي ده، چې معنی يې داده چې الله ته دا اقرار کوو چې هغه د هر شي خالق، رَب، مالک او چارسازی دی. همدارنګه، يوازې هغه د عبادت وړ دی او په حقيقت کې بل هېڅ حق معبود نشته، الله يو دی، هېڅ شريک نه لري، نه اولاد لري او نه هم هېڅ شی د هغه په څېر شته؛ نو په دې اساس، عبادت يوازې د الله تعالی لپاره دی او له الله تعالی پرته بل څوک د بللو لايق نه دی.

دا ګواهي په ټوله هستۍ کې تر ټولو لویه ګواهي ده او په ټولو الهي رسالتونو کې د ایمان اصل دی، ټول انبیاء (علیهم السلام) لکه: نوح، ابراهیم، موسی، عیسی تر محمد (صلی الله علیه وسلم) پورې خپلو قومونو ته د "لا اله الا الله" د اقرار، منلو او ایمان راوړلو ته بلنه ورکړې ده. دا هغه کلمه ده چې الله تعالی د هغې لپاره مخلوقات پیدا کړل، رسولان یې د دې د تایید لپاره لیږلي، کتابونه یې د دې د بیان لپاره نازل کړي، او جنت یې د هغه چا لپاره انعام ګرځولی چې دا کلمه د زړه له تله ووایي.

د همدې کلمې لپاره به خلک له قبرونو څخه راپورته شي او په قیامت کې به ورسره حساب وشي؛ نو چا چې په دې کلمه ژوند کړی وي او په همدې سره یې خپل ژوند پای ته رسولی وي، په حقیقت کې یې لویه بریا ترلاسه کړې ده، او چا چې لدې کلمې انکار کړی وي او ویلي یې نه وي، هغه به د دوزخ د تلپاتې عذاب مستحق وګرځي.

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ. زه ګواهي ورکوم چې محمد د الله رسول دی.

د دې شهادت معنی دا ده چې مسلمان شاهدي ورکوي چې الله تعالی محمد صلی الله علیه وسلم د الهي رسالتونو د پای ته رسوونکي په توګه رالیږلی او دا چې خلکو ته یې د دوی د رب پیغام رسولی دی، او دا چې مسلمان په ځرګند ډول اقرار کوي چې د الله تعالی د عبادت او د هغه د رضایت د ترلاسه کولو یوازینۍ لاره د رسول الله ﷺ په رسالت ایمان، د هغه د

سنت پیروي او د هغه په لارښوونو عمل کول دي، او د هغه شریعت سره سم د الله تعالی عبادت وکړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې تبلیغ کړی دی.

په دې ګواهۍ کې دا شامل دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې لپاره راغلی چې خلک بېرته توحید ته راوګرځي، لکه څنګه چې له هغه مخکې ابراهیم، موسی او عیسی علیهم السلام کړي وو. نو هغه د رب العالمین رسول دی، هغه د خپل رب د پیغامونو په رسولو کې د ټولو پیغمبرانو په څېر لار تعقیب کړې، مګر دا چې له هغه وروسته هېڅ پیغمبر نشته.

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ، حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ

لمانځه ته راشئ

د جملې معنی: اې مومنانو، د خپل رب عبادت ته مخه کړئ، ځکه چې هغه بخښونکی او مهربان ذات دی، توبه قبلوي او ګناهونه بخښي.

اذان یو غږ او د مؤمنانو لپاره یوه یادونه ده چې په لمانځه کې د خپل رب پر وړاندې د دوی د درېدو وخت رارسېدلی دی.

حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ، حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ

حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ

د کامیابۍ لور ته راشئ

د فلاح معنی قناعت، بریا، خوندیتوب، او په دنیا او آخرت کې نجات ده.

د فلاح له معناګانو څخه د الله تعالی خوښي ترلاسه کول، جنت ګټل، او د دوزخ له اور څخه ژغورل کېدل دي؛ هر چا چې ربښتینی ایمان راوړ او په لمانځه پاتې شو، نو هغه په حقیقت کې فلاح ته رسیدلی او څوک چې بریالی شو هغه ژغورل شوی او په جنت کې يې ابدي ژوند ګټلی دی.

اللَّهُ أَكْبَرُ اللَّهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَٰهَ إِلَّا اللَّهُ

د اذان پایله په تکبیر او توحید سره

اذان د "الله اکبر" په تکرار او د "لا اله الا الله" په تاکید سره پای ته رسیږي، دا دوه جملې د اذان د مخه ذکرشوو مفاهیمو تاکید کوي، او د بشریت د شتون اساس په همدې دوو جملو باندې دی، دا حقیقت هېڅکله نه تغیر مومي او نه بدلیږي، که هر څومره زمانه اوږده شي، او پېښې يو پر بل پسې رامینځته شي چې : الله له هر شي څخه لوی دی او دا چې الله تعالی ريښتينی معبود دی، او یوازې هغه د عبادت وړ دی، او له هغه پرته د بل هر څه عبادت باطل دی.

پایله: اذان یوازې د لمانځه د وخت خبرتیا نه ده، بلکې د کامیابۍ، بریالیتوب او نجات لپاره یوه بلنه ده، دا هغه پیغام دی چې په ورځ کې پنځه ځله د جوماتونو څخه اورېدل کیږي، تر څو زړونه راویښ کړي، او موږ ته په یاد راوړي چې الله ډېر نږدې دی.

خپل زړه دې د ایمان لپاره پرانیزه، او په اخلاص سره وایه: "أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا رسول الله"، "زه شاهدي ورکوم چې له الله تعالی پرته بل معبود نشته، او زه شاهدي ورکوم چې محمد د الله رسول دی"، د الله په رحمت

کې به داخل شې، په دنیا کې به اصلي خوشحالۍ ترلاسه کړې، او په آخرت کې به له عذاب څخه خوندي پاتې شې، او د قیامت په ورځ به د نیکو مؤمنانو په ډله کې راپورته شې.

فهرست

د اذان د الفاظو مختصره تشريح .......................................... 2
د اذان د الفاظو تشريح ............................................................. 2

ps504v1.1 - 06/09/2026